مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۲/۰۴/۲۰

# د اندیښنو سفر

زه په ژړا او اندیښنو دا ، ســـــتا له ښاره ځمه
په خپل غمـــــو او په سلګو ، له دې دیاره ځمه

عمرونه سترګی زما سترې ستا په لاره کې شوی
اوس په سفر له تریـــــــــــخوالي د انتظاره ځمه

داستـــا په غم کې می آرام و صبر ورکړ له لاس
زه د دردونو طـــــــــــوفانو کې ، ناقراره ځمه

لـــــــکه کشتی چې شی راګیره د طو فان په څپو
زه ړنګه ښنګه ستـــــا غمو کې ، پدې لاره ځمه

هر چا سره وي په دې بڼ کی ، له خزان هم امید
زه بد نصـــــــــــیبه بی بهرې له دې بهاره ځمه

کمزوری بختِه ځــــــــــخه چاوته فریاد وکړمه
چې یک تنها په دې خوارې کې ، بی له یاره ځمه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ